
ماتم کده
ادبي ټوټې
آيان مړوند
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماتم کده

ژباړن او راټولوونکی

آیان مړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ماتم کده |
| ژباړن: | آیان مړوند |
| کمپوز: | په خپله لیکوال |
| ډیزاین چارې: | په خپله لیکوال |
| برېښنالیک: | ayaansafi64@gmail.com |
| اړیکه: | 0770159565 |
| چاپ وار: | لومړی |
| چاپ کال: | ۱۴۰۲ |


**د کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

هغې مینې ته چې زه ورسره

ډېره مینه لرم

♥

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

د زړه په کوڅو کې مې

دومره مشکوک قدم

مه وهه

پرته له تا بل څو پکې نه شې پیدا کولی!

گران دي، د هغه کس هیرول

چې د هغه لپاره دې

هر څوک او

هر څه هېر کړي وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رنځورو خندا

د هغوی د اوښکو

نه ډېــره

دردونکي وي

مينه لرل مه ليکئ!

مه يــې وايئ!

بلکې ثابتــوئ يې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کس پسې خفه یم

چې فکر مې کاوه، رابه شي

او زما تنهایۍ ته به

د پای ټکی کېږدي

لکن راغی، ولاړ او زما ژوند ته

یې د پای ټکی کېښود!

ژوند وکړه او وخانده!

د هغه چا لپاره چې

ستا په خندا ژوند کوي

او ستا په لیدلو آرام پیدا کوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيګا مې خوب ليده

چې بيرته راغلي وې

سهار چې ويښ

شوم صدقه مې ورکړه!

که چيرې پوی شوم چې

اوښکې مې ستا د ژوند

ګلاب ته اوبه ورکوي

نو زه به هميشه ژاړم تر څو

ته ژوند وکړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه!

خاطر مې غوښت

نه خاطرې

ما بد وویل

که تا بد واورېدل!

ټولې نړۍ ته مې وویل

چې مینه ورسره نه لرم

مګــــر ځان

ته څـــه ووایـــم!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

اوس دې چې

هم ناڅاپه ووينم

خدای شته چې په کوم

آسمان کې الوزم!

ای! کله کله فکر کوم

چې دا زړه

مې په نړۍ

کې تر ټولو

غمجن زړه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې خدايه!

نور ستا په دې نړۍ کې په

هيڅ هم باور نشته، راځه!

يو ځای قدم ووهو

سګرټ زما او باران ستا

هغه څوک چې

هېڅکله مې

يوازې نه پرېږدي

هغه ته يې!

اې خدايه مننه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې کاش!

خوشالي

هم لکه مرګ

چې د ټولو

په برخه وای!

نه پوهېږم ولې؟

کله چې د خوشالۍ کیلي

پیدا کړم نو ژوند

خپل قلف بدل کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره ښه ده کنه!

چې انسان هره ورځ

له یو کس سره

مینه وکړي، نه هره ورځ له

یو نوي کس سره!

هېره به دې کړم

اما هیڅکله

به دې ونه بښم!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره جالبه ده، کنه!؟

ښه پوهېږم چې تاته نه شم رسیدلی،

خو بیا دې هم لیونی یم!!!

بې علته مینه درسره لرم!

ځکه کومه مینه چې

علت ولري، یا خو ریا وي، یا احترام.

تا ژمنه کړې وه، چې هره شپه به دې

یادوم!یا ته بدله شوې،

یا ستاسو ښار کې شپه نه راځي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې تلله نو راته ویې ویل،

تا هم بیایم!

ورته ومې ویل چېرې؟

ویې ویل :زما له یاده!

وخت وشو،

بې دلیله مسکا کوم!

بې ساري مینه کوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

په باران کې دواړه ګرځو

خو فرق دومره دی

چې ته له یار سره

او زه له یاد سره!

ای!

ستا خندا

زما نــــــړۍ ده،

نو تل خانده، ګني

زما نړۍ به

ورانه او ویجاړه شي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې کاش!

څنګه مې چې له لاسه ووتې،

همداسې مې له زړه هم وتلي وای!

اې!

ته يې راته پېغور راکړ چې

که مينه يې درسره لرلی!

نو نه به تلله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ؤ هغهٔ هم

لارې جدا کړې،

کاش زما په زړه کې

وروسته له خدايه

بل هيڅ څوک هم نه وای!

د مينې هيڅ يو

ټپ هم نه

روغيږي،

يا يې ځای پاتې

کيږي او يا يې ياد!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښکې څه دي؟

١٪ اوبه

٩٩٪ احساس

♥♥♥

په باران کې ګرځېدل

مې ځکه خوښ دي،

چې څوک زما اوښکې نه ګوري!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه! چې دا شرط

دې کېښود چې

مینان دې یو بل ته نه رسیږي،

نو بیا دې ولې زړونه پیداکړل؟

یعنې زمونږ د مئینو ګناه

دومره ډېره ده، چې بې دوزخه سوزو!

دا ژوند هم څه عجیبه دی!

په چا مې چې

لاس کېښود،

نو تر پښو

لاندې یې کړم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تا رښتیا ویلي وو چې**

**زمونږ اړیکه د ځنځیر**

**په څیر ده!**

**ما تاته لاس درکړ**

**او تا نورو ته!**

**خدایه! ومې بښه**

**کوم زړه دې چې**

**امانت راکړی ؤ**

**وه مې نه شو ساتلی!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چا چې يوازې پرېښودې، نو ورته ووايه!**

**ما نه، تا وبايلله**

**ځکه ما هغه څوک**

**له لاسه ورکړ چې**

**له ماسره يې مينه نه درلوده**

**او تا هغه څوک له لاسه ورکړ چې**

**تاسره يې ډېره مينه درلوده!!!**

**ژوند راته يو ښه**

**درس دا راکړ،**

**چې هيڅ څوک**

**هم د هغه**

**د خبرو په څېر نه وي!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې زخمونه بايد درمان شي،

ترڅو وکولی شو، ژوند ته ادامه ورکړو،

مګر ځينې زخمونه بايد

همداسې پرېږدو،

ترڅو خپله لاره ورکه نه کړو!

خدايه!

قيامت سبا ته دی

ولې نن سوزو!!!؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند يې درته وايي نه،

درته ښايي يې!

نو تل پام کوه!

مينه درسره لرم: ويل يې درې ثانيې وخت نيسي،

توضيح کول يې درې ساعته،

لکن ثابتول يې ټول عمر!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره مینه درسره لرم،

چې کله کله شک راته پیدا شي،

چې په غوږ کې به یې راته د آذان

پرځای ستا نوم اخیستی وي!؟

کله چې مړ شوم!

نو تابوت مې دې هغه خلکو پر اوږو

کېږدئ! چې زه یې پرېښی وم،

ځکه چې پوی شي، زه دومره درونډ بار نه وم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې نړۍ کې دوه ډوله ړانده پېژنم

يو ته چې هېڅ

دې زما مينه و نه ليدله

او يو زه چې ستا

په څير انسان مې ونه ليد!

۷

د هغه چا سره چې مينه لرې،

هيڅکله پرې د زيات

وخت لپاره مه غوسه کېږه!

ځکه چې هغه بيا ستا نه بې غېر

ژوند زده کوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې ربه!

بلد نه یم، چې څه درته ووایم؟

بس د زړه خبرو ته

مې یو ځل غوږ شه!

اې ربه!

نور د ژوند

نه ستړی یم!

یا یې راکړه،

یا مې واخله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه ورځ چې مړ شوم،

که چا پوښتنه وکړه چې

دا تابوت یې ولې دومره دروند دی؟

ورته ووایه!

ځوانیمرګ له ځېرو هیلو

سره یې دفن کوو!

دا انصاف دی!؟

کله کله دنیا دومره کوچنۍ شي،

چې د انسانانو د دوباره لیدلو

نه انسان ستړی شي، اما کله کله

دونیا دومره لویه شي، چې یو کس

پسې لیوني ګرځو او پیدا کولی یې نه شو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند بده کیسه دې

هېڅکله چاته مه کوه!

ځکه که ته يې هېره کړې،

هغه يې درېادوي!

اړتیا نشته له انسانانو

امتحان واخلئ!

د وخت په تېرېدو سره

خپله امتحان درکوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څومره ارامه شپه ده!**

**لکه څوک چې په دې**

**نړۍ کې نه وي،**

**یا شاید زه د چا په نړۍ کې نه یم؟**

**راځه نن قدم ووهو!**

**ته له یار سره،**

**زه له یاد سره،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي هنداره احساس نه لري!

نن يې نم نيولی ؤ

پرې ومې ليکل چې

«مينه درسره لرم»

آرامه اوبه شوه!

له اور مې وپوښتل مينه څه ده؟ ويې ويل

له ما ډېره سوزوونکې ده!

له ګل مې وپوښتل مينه څه ده؟ ويې ويل

له ما ډېره ښـــــکلې ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې کاش دا د تنهايۍ ورځې
هم د هغو ورځو په څېر وړې واى
چې له تاسره مې تېرې کړي دي!

فـــــکر مــــې کـاوه،
ته هــمـــــــدرد يــې!
لــــــکــــــن
تـــه هـــــم درد وې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې چاره ګل خرځوونکی
یواځېنی شخص دی، چې کله هم کور ته د ګلانو سره
د ننه شي، نو
ټول خواشیني کیږي!

مینتوب درد نه لري!
بلکې د هغه چا سره
مینه لرل درد لري،
چې ستا د مینې په
قدر نه پوهیږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې له دې چې د چا زړه مات کړې

نو لومړی فکر وکړه!

چې آیا دې زړه کې

خو به زه نه یم؟

هیڅکله له چا سره زړه مه تړه!

ځکه دا نړۍ دومره کوچنۍ ده، چې دوه زړونه له

یو بل سره نه ځایږي

او که له چا سره دې زړه وتړه،

نو هېڅکله یې مه خوشي کوه! ځکه چې

دا نړۍ دومره لویه ده، چې بیا به یې

هېڅکله پیدا نه کړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې حده مه مين کېږه

بې حده باور مه کوه

بې حده مينه مه کوه

ځکه چې همدا«بې حده» به

دې يوه ورځ بې حده وسوزوي

اې کاش!

ته پوهېدلی کله چې ويم يوازې يم

يعنې تا نلرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مې نه یادېږې

بلکې هغه څوک مې یادیږي

چې فکر مې کاوه ته یې!

ژمنه دې راسره کړې وه

چې هیڅکله به دې یوازې پرې نږدم

اوس چېرته یې؟؟؟

موده وشوه

ژوند تیریـږي

خو ښه نه تیریـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاش زړونه دومره پاک وی

چې«مینه درسره لرم»ویلو ته

د قسم خوړلو اړتیا نه وی

اې!

په دې کې زما تېروتنه نه وه

ته په خپلو پښو زما خوا ته راغلې!

شپه سترې

لکن زه له شپې

ډېر ستړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې خلک باید هېر

کړو په یو ساده دلیل

«هغه زما له راتلونکي سره کومه اړیکه نه لري»

شرمنده یم

چې اوس هم ستا نه

بغیر ساه اخلم

څنګه مې چې له هیلو تېر شوې

نو اې ربه! له

ګناهونو مې هم تېر شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی ځل ندی چې ژاړم

لومړی ځل دی

چې ژړا مې نه آراموي

پهٔ دې نړۍ کې

چاته د لاسونو

انتظار مه کوئ چې

اوښکې بهٔ مو پاکې کړي

نو خپلې اوښکې مو پهٔ خپله پاکې کړئ

ټول تيريدونکي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ورځې دې
زه يوه لويه غلطي ګڼم
چې په ژوند کې
مې کړي ده

زما نه وروسته مهمه نده
چې چا دې په زړه کې
ځای پيداکړ
د ليوانو پاتې شوني
فقط سپيان وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوی شه نور!

دا شپې نه دي چې اوږدې دي

بلکې دا ته يې چې يوازې يې

همیشه د هغه چا سره

د زړه درد شريک کړه

چې دوه شيان ولري

۱:زړه

۲:درد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوند کې دا څلور شيان

هيڅکله مه ماتوه

باور،وعده،اړيکه او زړه

ځکه ددې ماتيدل غږ نه لري

مګر درد ډېر لري

هغه شيبه راباندې څومره

سخته تېره شوه

چې ورته ومې ويل:

که رانه لرې شوې مړ کېږم

ويې خندل او راته ويې ويل:

ستا ژوند ته هيڅ اړتيا نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

بې له تا ژوندی یم

مګر بې له تا ژوند

نشم کولای

لاسونه مې کلک ونیسه!

دلته چېرو زما او ستا

په جدایۍ شرط تړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله مې
هغه وخت پسې
ډېر زړه خفه شي
چې ته مې
هيڅ نه پېژندې

کله چې مړ شوم
نو ليدلو ته مې مه راځه!
ځکه کله چې ژوندی وم
ما درته هغه وخت اړتيا درلوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي کله چې باران اوري

نو د خاورو بوی پورته کيږي

اما دلته خو د خاطرو

بوی پورته کيـږي؟

گل خرڅوونکي په عاجزي وويل

ښاغليه گلان واخله!

ما ورته وويل:چا لپاره يې واخلم؟

گل خرڅوونکي وويل:خپلې مينې لپاره يې واخله!

ما ورته وويل:که زما مينه يې خپلې مينې ته ورکړي بيا؟

گل خرڅوونکي وويل:وبښه ښاغليه زه خپل گلان

درباندې نه خرڅووم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



«مینه درسره لرم!»

دا یواځینی

خبره ده

چې ببېرته یې

نه اخلم

اې کاش!

پوهیدای

د هرچا زړه نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه مې په خپل زړه وياړم

مات شو

لوبه ورسره وشوه

دوکه ورسره وشوه

اما اوس هم کار کوي

ودې ليدل!

انسانان څومره زر يو

له بل څخه

ستړي کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

دلته پرته

ستا له لرې والي راسره

نور څوک نشته

درد لري

هغه چاته د ویلو

لپاره خبرې نه لرې

چې پرون دې ټولې

خبرې د هغه لپاره کولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افسوس

د هغه کارونو لپاره نه

چې غلط مې کړي

بلکې د هغه ښو

کارونو لپاره چې

چې د غلطو خلکو

لپاره مې کړي

ځینې وخت یې

باید ونه وایې

ځینې وخت یې باید واورې

ځینې خبرې

کله چې مې له خدایه مرگ وغوښت!

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته ويې ويل

که تاته مرګ درکړم

نو هغه ته څه ورکړم

چې له ماېې ته غوښتی يې

د ژوند تر ټولو لوی بد

کله چې يې وغواړو

ورته ورسيږو نشو کولای

اما کله چې ورته ورسيږو

نو بيا راته هيڅ ارزښت نه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت بدل نشو

بلکې هغه انسانان

يې بدل کړل

چې هيڅکله مې فکر نه کاوه

چې هغوی به بدل شي

کله چې خدای ستاسو

د ساتنې لپاره کوم څوک

له تاسو نه ليرې کوي

نو هيڅکله يې په پاتې کيدو

ټينګار مه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

د نيمې شپې چې ويښ شم

تا ولټوم لکن ځان

د بل چا په غېږ کې پيداکړم

خدايه!

دوزخ ته اړتيا نشته

مونږ انسانان يو بل

تردې ډېر

سوزوو!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

یو وخت به مې

نشتون حس کړې

او د قبر خاوره

به مې په سوک ووهې

او وبه وایې پاڅېږه

زه بېرته راغلم!

ځینې کسان مه ځوروئ

د ځینو کسانو ځورول څو ثانیې وخت نیسي

لکن جبران کول یې کلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې زړه!

ارامه اوسه

هغه ستا نه بغېر آرامه ده!

درد یعنې!

وخت وشو چې

هغه نشته ):

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې خدايه!

تاته غږ کوم ځکه چې په دې

دنيا کې يو غږ بل غږ ته نه رسيږي

او تا ويلي چې زه اوريدونکی يم

لاسونه مې خپلو هيلو ته نه رسيږي

هغه ډېرې لرې دي

لکن د صبر شنه ونه مې وايي

هيـــــله شته

دوعـــــا شته

الــــلـــه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسې یا نه اوسې

دا شپې تیریـږي

لکن دا شپې چیرته

او هغه شپې چېرته

اې!

په زړه مې لاس مه ږده

چې لاس

به دې وسوزیـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه دې نړۍ کې له هیچا سره

زړه مه تړه

حتی خپل سیوری دې

هم په تیاره کې

یوازې پرېږدي

غم مو خپله پیداکوي

نو د خوشالیو

په لټه کې اوســــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړینه ده چې په ژوند کې

ځینې خلک ورک کړو

تر څو خپل ځان پیداکړو

که کله دې احساس کړه چې

پاتې کیدل دې

سخت دي

بهترین کار تلل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چا در ځخه پوښتنه وکړه چې
ژوند يعنې څه ؟
خاورې په موټي کې راواخله
او پف يې کړه

له زړه سره مې پام کوه
چې مات نشي در څخه
زما د زړه په خاطر نه
بلکې ستا په خاطر چې
په هغه زړه کې ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځې!

پوهېږم چې حتماً راځې

خو هغه وخت چې کله

مې په سپينه ټوټه کې

د قبر غېږې

ته وسپارې

خو هغه وخت به بيا

هر څه بې معنی وي

موده وشوه لاسونه مې

د چايو په پياله ګرم کوم

دا د تنهايی اوج ندی؟؟؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بوډا مې وپوښتل

مينه يعنې څه

ويې ويل:هغه چې

زه يې بوډا کړم

کرکه لرم له هغو ورځو

چې نه پوهېږم

درد مې څه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې سترګې مې

په ړانده خرڅوم ترڅو

بيا دې هيڅکله دا دروغجنه څېره ونه ګورم

د زړه خبره دې نن وواېه

چې د زړه خبره شي

که سبا دې وويله

نو بيا د زړه درد کيـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ورځې تیریږي
لکن زه له دې
ورځو نه تېرېږم

زه چې یوازې یم په دې نه یم خفه
بلکې په دې خفه یم چې
ته څنګه داسې شخص وختې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

کله چې هم له چا څخه

د مينې کلمه واورم

نو بې اختیاره څړيکه

مې په زړه کې تيره شي

اې!

تا به زه هغه

وخت هېره کړم

کله چې خپل

ځان هېر کړم

ځکه زما ځان ته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرامه سندرې

او ستا په جدایی

اوښکې تویول دا بیا

ډېره مزه لري

که غوارې زما د ژوند په اړه

خبره شې سترگې

دې پټې کړه

کومه تیاره چې گورې

همدا زما ژوند دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينه ډېر خوږ نوم دی

خو ستا مينه دومره ترخه وه

چې د ژوند ټول

خواږه يې رانه واخيستل

مينه د نړۍ جوړونکي ده

خو برعکس تا زما

نړۍ ورانه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه تاسره د مینې

لرلو لپاره تر هر حد تېر شوم

ځکه کومه مینه چې حد ولري

هغه مینه مینه نه وي

وايي که چېرې يوه مسکا لرۍ نو

خپلې مينې

ته يې ورکړئ

تا مسکا هم يوړه

او ته هم لاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له کوم چا سره مینه
لرې نو همداسې یې
پرېږده که راغی نو پوی شه
چې مینه درسره لري
او که رانغی نو پوی شه
چې هیڅ ستا لپاره نه ؤ

له مینې پرته ښځنه نشته
او له ښځنې پرته مینه
نو راشه وبه دې ښځم
اوس هم درسره مینه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي يوازيتوب  دوزخ دی

نو اې!

ما له دې دوزخ څخه وژغوره

له هرچا سره مې

کولای شوی

مينه وکړم

خو که مينه مې له

تا پيل کړي نه وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره ښه!

په دې غمجن ماحول کې

چې په ما تیرېږي

بیا هم ته خاندې

❣

څینې وخت ته

څینې وخت ستا یاد

دا خو به ما ووژني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې وخت يو کس

صرف يو کس

باعث ددې ګرځي

چې ته يې په ځمکه باندې ژوند

کولو ته پريښې يې

نه اکسيجن

باراني

لمريزه

وريځ

څه توپير کوي؟؟؟

چې ته اوسې هوا هميشه ښايسته ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاید زما ساه وي

چې په دې نړۍ کې تر اوسه

پاتې یم اما

پرته له شکه چې

ته یوازینۍ دلیل یې

چې زه ساه اخلم

هرڅه مې

امتحان کړل

ژړا،سگرټ،د خوب گولۍ

مستې سندرې،اروه پوه،نوي ملگري...

لکن زړه مې نشو پوی

هغه تا غواړې تا!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

ځينې وخت له ځانه

لاسونه تاو کړم

او ووايم

ليونيه ته خو يوازې نه يې

زه درسره يم

که ځنګل هم

وي نو مړ به شي

لکن زما زړه

سوزي او سوزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې له تنهايۍ

سره مينه پيدا شوي

ځکه هغه ستا غوندې

بې وفا نه ده

ډېر خيانت مې هم ورسره وکړ

لکن بيا هم نه رانه ځي

خلک وايي:يو ساعت يعنې شپيته د قيقې

يوه دقيقه يعنې شپيته سانيې

لکن هيچا هم ونه ويل چې

پرته له تا شپيته ثانيې يعنې

شپيته کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه!

هرڅوک له تا غواړي چې

یو څه ورکړې لکن زه غواړم

له ما يې واخلې هغه غم

چې هغې

راکـــــــــړی!

ای!

د شپې چې کله ویده کېږې

نو یوه لحظه یوازې

یوه لحظه زما په اړه فکر کوه

ژمنه ده چې بېرته به راځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې!

هغه خبرو پسې خفه دی

چې له یو بل سره مو کولې

لکن ستړي کیدو به نه

اې!

دا بې دلیله اوښکې

مې چې پرمخ بهیږي

دا د زړه تنګۍ

اوښکې ندي

د بې کسۍ اوښکې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

له تاېې څه پټه

اوس مې هم

بې دليله زړه درپسې

خـــفـــه دی

شپې مې له خپل ځان

سره تېرې کړې

هر څوک چې لاړ بيا بېرته رانغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

نن مې زړه ډېر تنګ دی

غواړم والوزم

داسې ځای ته

چې بیا هیڅکله بېرته

رانشم

اې!

که تللو دې مړ نه کړم

نو ستا خاطرې مې

هم نه وژني

بې غمــــه اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله مې چې له لاسه**

**ورکړې نو اوښکې مې**

**نه کړې تويې**

**ځکه ما خپلې ټولې**

**اوښکې ستا د لاس ته راوړلو لپاره**

**تويې کړې وې**

**اې کاش**

**د زړه پرځای مې**

**غاړه تنګه شوی وی**

**چې ساه مې نه اخيستی**

**خلاص**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کله چې د چا له لاسه

ناراحته شوې

نو یوه لحظه یې

په نه شتون

فکر وکړه

اې ربه!

زړه مې تنګ دی

تا ویلي وو چې د انتخاب حق

لرې نو بیا ولې مې

انتخاب په څنګ کې نشته؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه لرې او بنده شوه

لکه چې باد بیا ټوکې راسره کوي

ستا د راتللو

تمثیل کوي!

په نړۍ کې ترټولو وړه کلمه«I»

په نړۍ کې ترټولو خوږه کلمه«LOVE»

په نړۍ کې ترټولو خوږ کس «YOU»

نو«I LOVE YOU»

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران چې اوري

ته مې ډېره يادېږې

بغېر له چترۍ

په باران کې قدم وهم

زه تا يادوم

او آسمان ژاړي

هغه دومره

په خپله تنهايۍ

کې ډوب ؤ چې

د سگرټ پرځای يې

خپل ځان وغورځاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

سپین مې شول

د سر هغه ويښتان

چې ویل به دې:

په ټوله دنیا يې هم نه ورکوم

اې!

اوس مې په هغه لاره

بېرته راتللو ته

زړه نه کیږي

په کومه لاره چې

ته راسره یو ځای تللي وې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم کس

چې ښ له تاسره خاندې

هغه کس سبا پر تا

خاندي مطمین اوسه

د زړه په دروازه مې ولیکل

ننوتل منع دي

مینه راغله او دننه شوه

او ویې ویل

«زه د چا اجازې ته اړتیا نه لرم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

ستا شتون کې مې

له ژوند سره لوبې کولې

اوس چې نه یې

ژوند له ما سره

لوبــــې کــــوي

ویې پوښتل ژوند یعنې څه؟

لنډو کې مې ورته وویل

چې د غمونو

تکلیفونو

سټریاوو او دردونو

دوهم نوم ژوند دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

اوس هم ستاسو

له کوڅې تېرېږم

خو لوېږم نه

ځکه چې ځمکې ته ګورم

اې!

دومره راته ګرانه وې

چې بغېر له تا

مې یوه لحظه احساس

کړه فکر مې وکړ

چې کلونه کیږي یوازې یم

(c) ketabton.com: The Digital Library


اې!

خبرې دې دومره خوږې دي

چې زړه مې غواړي

ستا خبرې ښکل کړم

زه او ته!

کله چې

د يو بل په

څنګ کې اوسو

نو دا د نيا تر ټولو

ښکلی ترکیب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مینې په کوڅه ورغلم

یو بوډا سړی راباندې راغی

ویې ویل مه ځه لاره بنده ده

ما یې خبرې ته غوږ ونه نیو لاړم

لاره په رښتیا بنده وه بېرته چې راتلم نو بوډا شوی وم

خیانت مې ندی کړی

ګیله مه کوه!

کله چې تا پرېښودم

نو هغه رانه غېږ تاو کړه

ترڅو ونه لوېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مين يې وپوښتل

مينه غم دی که خوشالي؟

په ديوال يې سر کېښود

ويې ويل:انتظار

مينه يعنې

کوم وخت چې

انسان د ځان نه

ډېر د هغه په اړه فکر کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دې چې

کومې ښکلي سترګې

پرانيستې

د همدې سترګو

په ياد بيګا کوم چا

خپلې سترګې پټې کړي وې

د يو چا يادول زړه غواړي

نه دليل

نو بې دليله دې

د زړه نه يادوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

له ځانه ډېر لرې

لاړم

ترڅو تاته ورسېږم

اوس نه ته زما شوې

او نه زه د ځان

اې!

غېږه دې نه ګرمي ده نه ساړه

ستا غېږه!

د کال څلور فصله دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې تللې

نو کاش زما سترګې

دې هم له ځانه سره

وړې وی

ترڅو زما سترګې

ستا د دیدن تږې نه وای

د ژوند ټول داستان مې

یوازې په دې جمله کې

راغونډ دی

«هغه شته لکن زما سره نه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم وخت چې دې

د ژوند لارې جدا کړې

خدای شته

ما له ځان سره

ډېر څه وويل

اې!

غږ درته نه کوم

چې بېرته راشه

که مهم وم

نو خپله به راشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو

ښکلي نړۍ تا

جوړه کړي

دلته په زړه کې مې

چې ته پکې اوسې

نن مې یو مین

ولید چې

خپل سیوري سره یې

خبرې کولې

نو هغه بیچاره به

څومره درد تیروي کله چې آسمان وریځ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټروان ودرېد له موټره یې

سر راویست ویې ویل:

یوازې یې؟؟؟

موسک شوم ورته ومې ویل:

له ډېره وخته

اې ربه ومې بښه!

د هغه دردونو لپاره

چې ستا په لاره کې

مې تېر نه کړل....!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــاش خدای ویلي وی

ستړی دې کړم نور

واخله دا يې هم ستا

اې!

ته پوهېږې

چې ستا په

نشتون کې دا ورځې

رباندې څومره اوږدې شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې ربه!

ته مې مل اوسه

که چېرته ستا نړۍ

کې رانه څه ماتيږي

بس چې زړه نه وي

درته ليکم يې چې

«يادپيږي مې»

مه وايه چې تکراري خبره ده

شايد يوه ورځ زه ونه وسم

چې تکرار يې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسامي

يې دومره ښکلې نه وه

لکن د بېرته تللو لاره يې ډېره ښه

رسم کړې وه

بېرته لاره

اې!

د لاسونو ګوتې دې په

قرض راکړه

ستا د راتللو شيبې

پرې شمارم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

ستا احساس

بيا په خپله

غېږه کې واخيستم

نه پوهېږم چېرته مې وړي

غږ يې لاړ

تصوير يې لاړ

لکن

خاطرې يې تل پاتې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې لږ جنت غواړي

څو لحظې دې

غېږه په قرض راکولای شې؟؟!!

اې کاش

څوک چې تله نو

دا خاطرې يې چې هم

له ځان سره ټولولی

او بيا تللی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا زړه مې
ځک دی ځېر ځک
دومره ځک دی چې
یو څه یې د سترګو
هم تویږي

ژوند څه دی؟؟؟

که ژوند خندا دی نو بیا ولې ژاړو؟
که ژوند ژړا دی نو بیا ولې خاندو؟
که ژوند مرګ دی نو بیا ولې ژوند کوو؟
که ژوند ژوند دی نو بیا ولې مړه کیږو؟
که ژوند مینه ده نو ولې ورته نه رسیږو؟
که ژوند مینه نده نو بیا ولې مینیږو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅکله یې د بېرته راتګ دوعا

مه کوه!

شاید کوم وخت راشي

خو هغه به نه وي چې تللی ؤ

اې!

که کومه ورځ راغله

چې زه نه وم نو وصیت درته کوم!

ښه اوسه

له هغه ښو

چې ما ورسره مینه کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې وخت مې

دومره يادېږي

چې زړه مې غواړي ويې ګورم

که د بل په څنګ کې هم وي

اې!

ژوند درې لحظې دی

ستا ليدل

ستا خندل

ستا غېږ کې نيول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

ددې تللو او راتللو

نه مې نور زړه تنګ شو

يه مه راځه

او يا چې راغلې نو بيا مه ځه

اې!

که کومه ورځ لاړې او بېرته راونګرځېدې

نو د انتظار ژمنه نشم درسره کولای

لکن يوه غوښتنه درنه لرم!

کله چې هم راغلې نو

يوه ګېډۍ ګلان مې قبر ته ضرور راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې خلک په نړۍ

کې شتون نه لري

بلکې هغوی خپله

يوه نړۍ وي

اې!

زه چې نه اوسم نو

نړۍ يوازې ما نه لري

لکن ته چې نه اوسې

زه يوه نړۍ نه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

که غواړې بېرته راشې

نو همغه ځای کې

درته په تمه یم

کوم ځای کې دې چې

یواځې پرېښی وم او تللې وې

مينه دې

تل له هغه

چاسره وويشه!

چې پوهېږې

هغه يې له چاسره نه ويشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ له ځان سره
ژمنه کوم چې
سبا دې هېروم
سهار چې شي
نو خپله ژمنه هېره کړم!

ستا ټول یادونه او خاطرې
مې لرې وغورځول
لکن زړه مې غلي وویل:
«په یاد مې ده»

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې!

ټول ښار ویده دی

یوازې زه

ستا فکر

ویښ ساتلی یم

هیڅکله له یوه انسان څخه

خپله هیله مه اخله!

شاید یواځینۍ هیله وي

چې دی یې لري

زما هیله ته وې

اوس چېرته یې؟؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه کس

د راتلو لارې ته

په تمه یم چې

هغه له دې لارې

ډېره ستړي ده

اې!

که ته د بل هم شوې

نو بیا به هم

زما سره یې

ځکه کلونه کېږي

چې زما په زړه کې اوسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیینه هم رانه

شکایت کوي

خوشاله ځیره غواړي

هغه چې تا وړي!

اې!

هر ځای کې چې یې

نو آسمان ته وګوره!

آراموي مې ځکه

که یوځای نه یو

نو آسمان خو مو یو دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښو عطرو خالي شيشه

هم بوی ورکوي

لکه ستا خالي ځای!

د تل به ځېر يې تاته ليکم

ته چې!

له چا سره مينه لري

هغه لپاره يې ووايه

نور بيا...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اخځليکونه:**

www.4yok.com

www.beytoote.com

www.bisms.ir

www.parsnaz.com

**نورې بيلابيلې ويب پاڼې**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**